# د الامیډا کاونټي COVID-19 د روغتیا بیړني حالت

د الامیډا کاونټۍ * کالیفورنیا

**د الامیډا کاونټي Covid-19 د روغتیا بیړني حالت**

د بیړنیو خدماتو دفتر
4985 Broder, Blvd, Dublin, CA 94568

فبروري 28، 2023

**د ځايي عامې روغتیا بیړني حالت پای ته رسیدو باندې د الامیډا کاونټي د روغتیا پاملرنې خدماتو ادارې بیان**

د الامیډا کاونټي د روغتیا افسر ډاکټر نیکولاس ماس تصدیق کړه چې په الامیډا کاونټي کې د COVID-19 لپاره د ځايي عامې روغتیا بیړني حالت نن، د فبروري په 28 مه د کالیفورنیا د COVID-19 بیړني حالت پای ته رسیدو سره سم پای ته رسیږي. پداسې حال کې چې COVID-19 زموږ په ټولنو کې خپریدو ته دوام ورکوي، د ځايي روغتیا بیړنیو حالتونو د اعلانونو موخه لنډمهاله وي. موږ اوس د هغه ویروس په اړه ډیر پوهیږو چې د COVID-19 لامل کیږي او خپل ځان او یو بل څنګه وژغورو څومره چې موږ د 2020 په مارچ کې کړي وو، او د ځايی نفسو په معافیت کې اضافه یا ډیروالی او په پراخه کچه شتون لرونکي درملنې دا ناروغي د عامې روغتیا لپاره ډیر کم خطر جوړ کړي دي.

اوسیدونکي باید ورته وسایل وکاروي چې د وخت په تیریدو سره د ځان او نورو صحتمند ساتلو کې د امکان تر حده اغیزمن ثابت شوي وي. د الامیډا کاونټي د روغتیا پاملرنې خدماتو اداره د هرچا هڅولو ته دوام ورکوي چې:

- چې په کور پاتې شي که ناروغ وي یا COVID-19 مثبت وي،
- په تازه واکسیناسیونونو تازه پاتې شي، پشمول د نوي COVID-19 بوسټر یا پیاوړي کوونکي واکسین ترلاسه یا لګول،
- د انفیکشن پروړاندې د اضافي محافظت لپاره د لوړ کیفیت، ښه مناسب ماسک واغوندي،
- په لږه توګه د وداني دننه او بهر راغونډ یا یوځای شي ترڅو خطر کم کړي یا که د کور دننه راټولیږي، د دروازو او کړکیو په خلاصولو یا د هوا د صفا کولو سیسټمونو په چلولو سره هوا ښه کړي،
- معاینه شي که چیرې ناروغي ته مخامخ شوي وي یا ناروغ وي، او
- څنګه او چیرې درملنې ته لاسرسی ومومي او که مثبت وي، د روغتیا پاملرنې چمتو کوونکي سره اړیکه ونیسي یا سمدلاسه د ایالت پر بنسټ ملاتړ شوي سرچینې وکاروي: د نښو خرابیدو پورې انتظار مه کوئ.

دا احتیاطي تدابیر تر ټولو غوره طریقې دی چې موږ کولی شو د خپل ځان ساتنې او د وبا اداره کولو ته دوام ورکړو ځکه چې دا زیاتیدای شي. الامیډا کاونټي، لکه د نورو بې ایریا (Bay Area) کاونټیانو په څیر، د COVID-19 په ځواب کې د ملت رهبري کوي، د ټولنې پر بنسټ سازمانونو او د روغتیا پاملرنې سیسټم او د ټولنې کلینیک شریکانو سره ملګرتیا څخه مننه. موږ د اوسیدونکو، سازمانونو او ځايي سوداګرۍ څخه مننه کوو چې د وبا په پیل کې د الامیډا کاونټي سره د ملګرتیا کوي او د ټولنې د روغتیا ساتنې لپاره هڅې کوي.

MEDIA
EOC-PIO@acgov.org

PUBLIC
ncov@acgov.org

PHONE
510.268.2101

Alameda County Social Services Agency

Alameda County Health Care Services Agency